مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی
۲۰۲۱/۱۱/۰۷

# غزل

مینه دې وکړه دا مې واوره چې  بیماره به شې
د مستو سترګو په جادو کښې ګرفتاره به شې

نور دې صفت د ښکلا نه کوم، مغروره به شې
بیا به زما له زړګي ووځې او بېکاره به شې

وینه مې وچه شي بدن کښې چې دې ونه وینم
که دې خروب نه کړل رګونه زما بې یاره به شې

بغیر له تا نه مې د زړه جونګړه تشه ښکاري
که خداې زما کړلې ، زما د کور واکداره به شې

ستا د تندي دا شنو خالونو پسرلی خزان کړ
مخ په سالو مه پټوه چې ګنهګاره به شې

مصطفی پسرلی
06/Nov/2021


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ